AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ع . رشید
۲۰۲۶/۰۶/۲۶

ډالی : د نامتوافغان ستورمزلي تلپاتي وياړ اوپرتم ته!

# له خواجه نوره
# بیا ترمیره!



دمرسلې په لویدیزه لمنه کې یې سترګې وغړولې،له سترګوغړیدو سره سم یې پلارپه غوږ کې د آذان خوره ناره و زمرمه کړه:

- الله اکبر، الله اکبر....

بیرته یې دمورپرغیږباندې کیښود، هغې هم په مینه مینه ورته و کتل اود الله دکلام مبارکه آیه : قل هوالله احد یې په ناروغه اکرسره پروویله پلارېې سره وغوړید او ترخوله یې دا جمله راووته:

- هونوم به احد وي.... عبدالاحد ...

اوتنکی احد د سردې د ښکلي بند په څپو کې د شلګرپرسرله شنکي آسمان سره دمینې پراحساس باندې د ژوند ماشومانه موسکاوې او ژاړوې دمورنۍ اوپلرنې مینې له نا زونوسره په نازاونیازسره وځارلې....

د ښوونځي دروازه یې پلار پرمخ باندې پرانیستله... هلته یې تر جومات اوملا ورهغې خوا ته د ښونې اوښونکي نوم ترغوږشو... یوکوټې ته چې پرسریږ په درنه پښتولیکلي وو « لومړی ټولګي » ورننووت، یوه دنګ درشي والا سړي په غیږ کې ونیو، نوم یې تر وپوښتیده، چې ده زرځواب ورکړ:

- عبدالاحد... الف بی مې هم په جومات کې زده کړې ...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پرڅوکې یې کیناوه...
ښوونکي پرتخته باندې ولیکل :
ـ خدای ، وطن اوواکمن ...
بیا یي پوښتنه وکړه :
- په تاسي کي څوک شته چي دغه درې ټکي ولولي؟
احد لاس پورته کړ:
- زه ... هو زه یم ...
- آفرین ولوله ...
- خدای ، وطن او پاچا ...
**- وا وا آفرین ... یو چکچک ....**
**اوټولو لاسونه ورته کړپول...**


(*)
احد له همدغې ورځې دیوه ځیرک ماشوم په توګه دخپلوټولګیوالو په منځ کي وپیژندل شو.... غرمه چي کله دکورد انګړ په دروازه راننووت خپله ټوله کیسه یې د پښنو پرسر خپلې موراوپلارته زر زر تیره کړه:
- ماته نن چکچکي وشوې... ښوونکي مې پرسرلاس راتیر کړاو ځوخلې یې ماشا الله ما شاالله.... را ته وویله ....
موریې په غیږکې ونیو، په دواړوانګویې ښکل کړاوپه مورنۍ مینې یې ورته وویل :
ـ سبا سهارچې مکتب ځې غوړه ډوډۍ به درته پخه کړم ، بوره به هم درته په کې واچوم چي خوږه شي ....
پلاریې پرسرلاس ورتیرکړ ، ورته ویې ویل :
ـ نن مازدیګردې د روسانواوافغانانو زده کونکو دوالیبال مچ ته بیایم وایې چي نن د روسانو په لوبغالي کې ډیره مهمه لوبه ده، له غزنې او میرې، سپندې، سلطان باغ اوخاني بابا ډیرځوانان هلته راځي ....
د روسانو او افغانانودوالیبال لوبې ته ....
د روسانودکلپ بیولوته احد هم سره وغوړید تیاری ونیو، پلاریې هم خپل همبربایسکل ته باد ورکړ، لوړمازدیګریې له ځان سره د والیبال لوبې ته روان کړ...
دسردې بند روسانوجوړکړی و، دلته اوس په سلګونو روسان اوسیدل ، ښکلي پاخه کورونه یې دلته په کې جوړکړي وو، لوی سپورتي لوبغالی، لامبو ډندونه، سینما اوان دخپلو ماشومانوله پاره یې یې د خپل هیواد په کچه ښوونځي او وړکتون هم درلودل...
ماشوم احد د لومړي ځل له پاره فلم هم ددغه جوړښت په سینما کې لیدلی و، د روسانوژوند، دهیواد پرمختګ داډول فلمونه به یې کله کله د شاوخوا سیموخلکوته هم ورښودل... احد د نامتو روسي ستورمزلي ګاګارین فضا ته دتګ فلم هم دلته لیدلی و، هغه چي په څومره پرتم سره فضا ته ولاړ، هلته یې دده د ژوند اوهڅو ورځنۍ بهیر اوان چي په څه پرتم سره له فضا بیرته ځمکي ته راستون شو اوپه څه ولولوسره یې هرکلی وشوی و داټول بهیرده دلته لیدلی و... په هغه ورځ چي کله دغه فلم پای ته رسیدلی و، پلاریې یوازې همدا یوه جمله ترغوږ ورتیره کړې وه :
-څوک چي ښه درس ووایي له هغه هم ګاګارین جوړیدای شي...
خوده په لنډه کې وریاده کړه :
- هغه زموږ په ما ما خیلوکې هم یوپیلوټ شته، هغه ولې ګاګارین نه شو ؟
- کیدای شي هغه هم شي، خو زموږ ملک ډیرغریب ملک دی، چیرته عزیزخان چیرته ملنګ عبدالرحمن ، چیرې افغانستان او چیرې تشیال (کیهان) ته رسیدنګ ...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

خواحد بیا په موسکانه ژبه ورته کړه :
- داخل چي هغه پیلوټ ماما راغئ ، زه به ورته ووایم چي زه غواړم افغان ګاګا ر ین شم ...
پلاریي په ټنده ښکل کړ.... له ځان سره یي خیال ته ورغله :
**څوچي دا شني شولي رسیږي**
**ما به مرغی په ژړا ډیروژړوینه ...**
( **)
په هغه ورځ لوبه افغانانو له روسانو وګټله، ځکه چي دغزني نامتووالیبالرانود سپندۍ عارف خان اود رشیدانوسرمعلم هاشم خان دواړه ډیرښه ولوبیدل...
له همدغه ماشومانه موسم څخه د کوچني احد سترګواو فکرد آسمانو چکرونه وهل اودا سوچ او هوډ ورسره و: افغان ګاګارین ، مسلمان ګاګارین اود مرسلي مور بچي عبدالاحد مومند ګاګارین....
ماشوم احد دخپلو زده کړو یوه برخه د دنګي مرسلي په څنګ د تورو اوسپنوزآنو دکتارونو ترسیوري لاندې سرته ورسوله، په هغه ورځ چي ده دکابل په لوردخپلو زده کړو مزی غزاوه، په هغو شپوکي به دکلي دښځواونجونو په خولو کې دغه سندره زمزمه انځوروه چي : **جنګی ژاړي ... او وړکي بیا کابل ته ځینه...**
احد درس ووایه،دپلارخبره یي لاهم په غوږوکي خپل انګازه کول:
-څوک چي ښه درس ووایي له هغه هم ګاګارین جوړیدای شي...
احد خارج ته ولاړ، هوا باز شو، بیرته د خپل ښوونکي د لومړۍ جملي « خدای ، وطن او واکمن » په مینه د هیواد د فضا د اتلو ساتونکو په ډله کي ودرید... اوپه الوتنویي پیل وکړ، د غزني پرسرورغئ، د محمود او سنایي په مزارویي لاسونه په دعا شول، پرمرسله ورغئ اوهلته یي په هوا کي دهغوزانو پرپلونو باندې الوتني وکړې هغوی چي اوس له دغي فضا څخه مروري شوي وي او پردغه لاره داڅوکاله شوي وو چي نه راتلې **ځکه چي اوس د مرسلي پرسرد ستورو نندارہ پیکه شوې وه ...**
(***)
اوسفینه د بایکانورد سرې د ښتي له زړه څخه د تودولمبو په پرتم کي هوا ته پورته شوه... احد د سلګونوهوا بازانوله منځه دغي دندې ته د ډاکترنجیب په زمانه کي ګمارل شوی و، کله یي چي له مورسره وروستی خدای پاماني کاوه، هغي څوڅوځلي دا ترغوږ ورتیره کړې وه چي :
- د الله کلام دي له یاده ونه وځي ...
ده په موسکانه څیره ځوا ب ورکړ:
- ادې هغه خپله له لوړو لوړو آسمانو راغلی، له ډیرلوړاولوړمقام څخه چي موږ کله هم هلته نه شو رسیدای... زه ډیرلیرې نه ځم ...
ادې یي وویل:
- ترکومه ځایه چي ته ځې باید درسره وي...
- سمه ده په سترګوبه یي یوسم...
اوټول افغانستان په هغو ورځوکي آسمان ته کتل... ځکه چي یو بچی یي د ناپایه فضا په زړه کي پورته تللی و، ټولو اوس همدا ویل چي هغه به اوس هره شیبه له هغولوړو څخه د دځمکي اود خپل سرلوړي هیواد نندارہ کوي. اوله دغې خوا به خامخا دا هم اوري چي :
**ته چي په بام باندې ولاړه وې تا چا ته کتل**
**خلک زما په نندارہ وو چي ما تا ته کتل**
احد له **خواجه نوره بیا ترمیره** پورې ورسید، له هغه ځایه یي د ځمکي پرلور راوکتل ، چي څومره وړه اوښکلي ښکاریده، ځکه چي خلک لاهم دلته په وړو وړو کارونو باندې بوخت وو، احد ولیده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

چې خلک پرېټوخزانو لکه ناخبره ښاماران پراته دي، خو دوی هغه نه وینی اودخپلې هستۍ پردغه راز باندې نه پوهېږي ، ددې پرځای چې پرهغوباندې د برلاسي په خاطرخولې تويې کړي ، دوی جنګونه کوي اوځانونه ديوه اوبل پروینو تویولو باندې دوژونکو وسلوپه زور سرلوړي بولي...
کله يې چې یوځل د نړی د ننداري په ترڅ کې خپلې مورنی مځکي ته وکتل... ورته په سوچ کې شو:
- ای ښکلې مځکې مورې ! څومره انسانان ستا په غیږه کې له لوږې، له تندې، له جګړو له ځان ځانيو، څخه مري، یوشمیرظالموچې کوم شورما شورهلته جوړکړی دی، پرهغه خویوازې زه او ته ډیرښه پوهيږو ...
ته له دغې لوړې ته ما ته جنت غوندې آرامه ښکارې، زه اوس پوه شوم چې مونږ په غلطه پرجنتونوپسي د آسمانو پرلور راګورو.... دلته هیڅ هم نشته...
مورې ! څومره ژړاوې، څومره ناخوالې چې ستا اوسیدونکو ستا په غیږه کې را منځ ته کړې دي، هغه ټولې له دغې لوړې هیڅا ته نه ښکارې...ستاد نني شورماشوراودردونو آه اوفریاد دلته نه راځي...
آخ زما وطنه، زما دوطن مورې، ترهغې ورځې پورې چې زه پردغه خوا را روان وم، ستا په زړه څومره بې ګناه ځوانان،بی ګناه انسانان دهیڅ له پاره، د درواغو له پاره، د شیطان په لمسه ووژل شوي وو، اوستا اوښکې لاهم رواني وې ... زما زړه خو له همدې امله پرتاپسې را ختلی و...ځکه چې زه دهغوی د سرو وینو نښه یم چې ستادليونيوبچيانو دغه لوی جهالت ته ان دلته هم په ژړا سريم ... داچې زه به بيا ستا پرلمن باندې خپلې اوښکې پاکې کړم که نه ، خو ته باید زما د زړه غږ واورې چې :
ته پرما ګرانه یې ، ما خپل سفر دشلګرله **درانه خواجه نوره تر بیا تر روسي میره** ستا ددعا په برکت ترسره کړ، ما له خپل « خدای ، وطن او واکمن » سره تل مینه درلوده اوپرهمدغه مینه به مرم .... مورې ، زما افغاني مځکې مورې ! ته پرما ګرانه یې ، هو، ډیره ، ډیره ... تا دې خدای را ته لري، ځکه زه له تاسره دومره مینه اوپرتا دومره باورلرم چې کله زه مړ هم شم ، ته اوستا تنکي اوله مرګ اومړيني په امن بچيان به پرما وياړي او ما به کله هم له ياده ونه باسي ... ځکه پرما ګرانه يې....
پای



اتل مومند

خالق رشید
ادمنتون کاناډا
د ۲۰۲۶ کاب د جون ۲۲


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ